**کار ته لار**

دا وېبپاڼه لاربښوونه کوي چې یو کس چې د اروپايي ټولنې او د اروپايي اقتصادي ټولنې (EES)څخه بهر کوم هېواد کې یې زده کړې ترسره کړې وي، څنګه کولای شي چې په سویډن کې د ښوونې او روزنې، د روغتیايي او پاملرنې خدمتونو په چوکاټ کې خپلې حرفې ته لاره پيدا کړي. دا لاربښوونه کېدای شي د بېلګې په توګه ډاکټر، د غاښو ډاکټر، نرس، ښوونکی یا د وړکتون ښوونکي په څېر حرفو پورې اړه ولري. په ښوونځیو، روغتونونو او د پخو عمرونو څښتنانو د پاملرنې خدمتونو کې د دا ډول حرفو یا کسبونو تقاضا خورا زیاته ده.

دا وېبپاڼه په لومړي ګام کې د کمونونو او حوزو په سطح هغو د کار مالکانو او کاري لاربښوونکو ته متوجه ده چې په بل هېواد کې زده کړې ترسره کوونکو او کاري تجربه لرونکو کسانو ته د ازمېښتي کار، لاربښوونې او ګومارنې وړاندې کولو لپاره اړونده معلوماتو او ملاتړ ته اړتیا لري.

حتی تاسو چې د هېواد څخه بهر زده کړې لرئ کولای شئ چې د خپلې حرفې په چوکاټ کې یوه دنده موندلو شرایطو څخه ځان خبرولو لپاره اړونده او ګټور معلومات ترلاسه کولای شئ. د بېلګې په توګه په سویډن کې د خپلې حرفې په برخه کې د کار جواز څنګه اخیستل کېږي چې د ښوونې اور روزنې او روغتیايي څانګو په ډېرو دندو کې د دا راز د کار جواز درلودل شرط دی. په www.vagentilljobben.se/valjyrke وېباڼې کې د خپلې حرفې په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

دا وېبپاڼه په سویډنې ژبه ترتیب شوې ده خو ګڼ شمېر فلمونه داسې دي چې ورلاندې متن لیکل شوی وي او تاسو کولای شئ چې دا متن بېلابېلو ژبو ته واړوئ. د ژباړې لپاره د ویډیو لاندېنۍ غاړه کې د ”undertexter” (فلم لاندې متن) علامه باندې کېکاږئ او بیا ”översätta automatiskt” (اتوماتیک ژباړه) غوره کړئ او ورپسې د خپلې خوښې ژبه غوره کړئ. د لاندېنې فلم کتلو له لارې یې وازمایئ:

https://www.youtube.com/watch?v=baigQhEnthM

په دې وېبپاڼه کې د کار لټولو امکانات شتون نلري. دا کار د کارموندنې اداري ته د مراجعې له لورې ترسره کولای شئ. نور معلومات په www.arbetsformedlingen.se کې ولولئ.

که چېرې تاسو په سویډن کې د کار شرایطو او د سویډنې ژبې زده کولو په اړه نور معلومات ترلاسه کول غواړئ نو www.informationsverige.se ته مراجعه وکړئ.

د دې وېباڼې چارې د سویډن د کمونونو او ولایتي شوراګانو ټولنې (SKL)، د کارګرانو اته واړه اتحادیو، د اکادمیسینو ټولنې SSR، د فزیوتراپیفتانو اتحادیې، د ډاکټرانو اتحادیې، د ښوونکو ملي ټولنې، د سویډن د کمون د کارګرانو اتحادیې، د سویډن د ډاکټرانو ملي ټولنې، د ویژن (Vision) ټولنې، د روغتیايي چارو کارګرانو اتحادیې او د اکادمیسینو ټولنې (AkademikerAlliansen) په مرسته او همکارۍ پر مخ بیول کېږي.